# په ټپه کښې د غنمو د فصل او د غذائي اجناسو د ذکر عکاسي

## Research on description of wheat crops in Pashtu folklore ‘Tappa’

مصباح الله[1]

نورالبصر امن[2]

Abstract:

*Tapa is that alluring heart touching and famous genre of Pashto folk literature that has no known writer and poet. But despite of this it has so much depth that each and every one considers it of their heart voice. This old genre has no known history but it is transferred from heart to heart. Structurally it has two lines, the first line has nine and the second line has thirteen syllables. In Tapa diverse subjects has been described. The topics of Tapa are universe. For example, wheat, which is very important crop for humane life. This crop has been repeatedly mentioned in Tapa. To elaborate the importance of wheat crop, several products of wheat have also been mentioned in Tapa poem. In this article, on the above-mentioned topic research has been conducted.*

ولې به نه ژاړم تالا شوم

په شنو غنمو مې سورخے اولېګدونه

Key Words: Tappa, wheat, Pashto, Folk lore

په دنيا کښې الله تعالٰی د انسان د پاره ډېر څيزونه عام طور د نباتاتو، جماداتو او حيواناتو په شکل کښې پيدا کړي ـ خو بعضې څيزونه داسې هم دي چې د انسان د خيالاتو، جذباتو او احساساتو سره تعلق ساتي ـ دغه جذبات او احساسات چې په يو خاص قانو ن او قاعده او ليک لوست کښې راشي نو "ادب" ترې جوړ شي۔ادب په لغت کښې احترام او عزت ته وائي او په ادبي اصطلاح کښې هغه وينا او ليک چې د انسانانو د احساساتو او جذباتو ترجماني کوي ـ

“Literature: (in Latin, literature, lite from littera liter) in the widest sense in the expression, representation or manifestation, of thought by means of alphabetic symbols called liters. The product being considered as a collective body without

---

[1] پي ايچ ډي سکالر ،پښتو څانګه پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون چارسده

[2] اسسټنټ پروفېسر پښتو څانګه ملاکنډ پوهنتون، چکدره کوز دير

special regard to the excellence and beauty of the form of expression sense only the mare polished or artistic class of such products, together with the critical knowledge and appreciation of them, may be called literature.[1]"

ژباړه:لټریچر (ادب) د لاطینی ژبې د لټریچره یا لټر نه ماخوذ دے. په وسیعه معنٰی کښې د انساني احساساتو او جذباتو اظهار چې د انساني همدردۍ رنګ پکښې وي. چې د الفاظو په شکل کښې عوامو ته پیش کړې شي. هغه ښکلې خبره چې په یو مجموعي شکل کښې جوړه شي اګر کۀ د وزن بحر خیال پکښې او نۀ ساتلې شي مګر د زړۀ خبره ترې واضحه شي خو چې د ادب په چوکاټ کښې دننه وي. او چې په هغې کښې تنقیدي نقطه نظر هم شامل وي ادب وئیلې شي.

ادب پوهانو ادب د خلقو د پوهې او زده کړې په خاطر بیا په مختلفو څانګو کښې تقسیم کړے دے چې یو شعري ادب او بل نثري ادب بللے شي .

" شعري ادب هغه ادب دے چې د نثر په ځائے په نظم کښې لیکلے شوے وي۔ چې قافیه بحر او وزن لري دې ته شعري ادب وئیلے شي".[2]

عبدالحلیم اثر د نثر تعریف داسې کوي۔

" نثر په لغت کښې شیندلو او خورولو ته وائي او په اصطلاح کښې هغه کلام دے چې د وزن د قید نه خالي او آزاد وي۔"[3]

د نظم او نثر نه پس ادب په ګڼو اصنافو کښې ویشلے شوے دے چې یو پکښې اولسي یا عوامي ادب هم دے ۔کوم چې زمونږ د فولکلور یوه اهمه حصه هم ده ۔

د فولکلور لغوي او اصطلاحي معنې په دې ډول شوي دي۔

"فولکلور "folklore" دانګریزي ژبې یوه کلمه ده ۔ چې د دوؤ کلموفوک "folk" او لور"lore" نه جوړه ده۔فوک معنٰی ده اولس یا خلق او لور معنٰی ده پوهه یا زده کړه۔هم دغه شان د فولکلور "folklore" معنٰی شوه د اولس زده کړه یا پوهه په اصطلاح کښې د فولکلور مطلب دے۔ د یو قام یا معاشرې د ژوند ژواک،دود دستور او رسم رواج په حقله معلومات ترلاسه کول او په ادب کښې ئې محفوظول۔"[4]

د فولکلور او بیا په فولکلور کښې د غیر مادي فولکلور مطالعه ډیره ضروري او د خوند او رنګ نه ډکه ده خو د بده مرغه د دې مطالعې، څیړنې او خوندي کولو ته د خلقو ډیر ورستو پام شو

"په یولسمه صدۍ کښې ورته د محقیقونو پام شو او فولکلورراغونډول ئې شروع کړل او د فولکلور هغۀ برخه چې د اولس په حافظو کښې محفوظه وه هغه راجمع کړل۔ په دې لړ کښې

د ټولونه اول پېل برطانوي پوهان جے ډبليو تهامس کړے وو . چې په۱۸۴۲ کښې د دے قسم ادب دپاره فولکلور ټکے استعمال کړو ."[5]

پوهانو فولکلور بيا په درې برخو کښې تقسيم کړے دے چې يو مادي دويم نيم مادي او دريم غېر مادي فولکلور دے. د دريم قسم يعنې غېر مادي فولکلور تعلق نېغ په نېغه د ادب سره دے .

"زمونږ سره په ورمبے کښې مادي فولکلور دے چې پکښې کالي پترې،جامه پېزار او سيکې وغيره شامل دي . هم دغه شان ورپسې نيم مادي فولکلور راځي چې پکښې مونږ سره توهمات،دود دستور، فال، خوب، جادو، تعويذ وغېره شامل دي او په آخره کښې غېر مادي فولکلورکښې قيصې،داستانونه ،سندرې،متلونه،اړونه،او محاورې وغېره شاملې دي."[6]

د فولکلور دريم قسم غېر مادي فولکلور چې په اولسي ادب هم ياديږي پوهانو په شفاهي،نيم شفاهي او غېر شفاهي قسمونو کښې تقسيم کړے دے. فرهاد وسيم پرسفزي د دغې درې واړو قسمون تعريف څۀ داسې کړے دے.

1. "شفاهي ادب :
د اولسي ادب هغه برخه چې سينه په سينه يا د يونسل نه بل نسل ته منتقل شوې دي. چې په هغې کښې فرضي قيصې دي . چې په ليک لوست کښې ئې څه ثبوت نشته . لکه متلونه،ټکونه،او اړونه وغېره دا ټول د يو نه بل ته اود بل نه بل ته رارسېدلي وي ،شفاهي ادب ياديږي.

2. نيم شفاهي ادب:
د اولسي ادب هغه اصناف چې څۀ خو په يادو ياد شوے وي.او څۀ د ليک لوست په لاره لکه کتابي شکل کښې ثبوت لري. په دې کښې زيات تر اولسي قيصې، اولسي سندرې، ټپې، چاربيتې، امروزې، او محاورې شاملې دي.

3. غېر شفاهي ادب:
د اولسي ادب هغه برخه چې هغۀ صرف او صرف په ليک لوست کښې وي . لکه قيصې،ډرامې، افسانې يا د تاريخ کتابونه وغېره شامل دي. غېرشفاهي ادب ګڼلے شي."[7]

د اصنافو په لحاظ اولسي ادب ډېر فراخه او شتمند دے لکه ټپه، چاربېته، لوبه، سندره، قيصه، نيمکۍ، بګتۍ،بابولالې،د اتڼ نارې، سروکي، کاکړۍ غاړې، منظوم او منثور متلونه،اړونه او دوړې وغېره شامل دي. خو په دې ټولو اصنافو کښې مقبول،معروف،مشهور او خوندور صنف " ټپه " دے.

" ټپې ته ځوک لنډۍ وائي او که ځوک مصرعه يا ټيکې چې هر څۀ وي خو ټپه ټپه ده. دا د پښتو اولسي ادب هغه ځانګړے، مشهور او د پښتنو، نر، ښځو، زړو، وړو، ځوانانو،

پېغلو، ځلمو او د هر چا په زړه نقش کړے هغه صنف دے. چې د دنیا یوې ژبې کښې ئې مثال نۀ ملاوېږي. "[8]

د ټپې د ټولو نه زیات ځانګړے خصوصیت دا دے چې د دې ویونکې او شاعر نۀ وي معلوم او دا د ټول قوم میراث ګڼلې شي. دا صنف د لفظونو او جملو په لحاظ هم ډېر اختصار لري چې د دوه مختصرو جملو نه جوړه وي.

" ټپه د یوې نیمګړې او یوې پوره مصرعې نه جوړه وي. وړمبې مصرعه ئې نیمګړې وي. او دوئمه مصرعه ئې پوره وي. د مصرعې اوله برخه نهۀ سېلابه او دوئمه ئې دیارلس سېلابه وي. "[9]

د ټپې د قدامت په باره کښې هم پوهان یوه خلۀ نۀ دي. خو اکثر پوهان دا وائي چې دا لاندینۍ ټپه د پښتو وړومبۍ ټپه ده.

"سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه.

یار مې د ګلو لو کوي ګوتې رېبینه "[10]

د نورو خصوصیاتو تر څنګ په ټپه کښې د موضوعاتو په لحاظ هم ډېره فراختیا پرته ده. په کائنات کښې به داسې موضوع کمه وي چې په ټپه کښې به نۀ وي ذکر شوې. د زمکې لاندې او اسمانونو پاس ذکر هم په څۀ نه څۀ شکل کښې په ټپه کښې ذکر شوے دے.

د غنمو د فصل پېژندګلو:

غنم په ټوله دنیا کښې تقریباً یو عام فصل دے. چې انسان یې د غلې په طور استعمالوي غنم ته په اردو کښې "گندم"او په انګرېزۍ کښې " wheat" وئیلې شي. په عربۍ کښې ورته"بّر" او د غنمو بوټېنکل نوم "Triticum aestivum" دے. که یو طرف ته غنم یو اهم فصل دے. نو بل خواه دا یوه اهمه غله هم ده. ژوند دغنمو نه بغیر تېرول ګران دي. که مونږ د غنمو تاریخ ته په ځیر شو نود غنمو په حقله راځي.

"غنم د نړۍ یو پخوانے بوټے دے. چې له ۲۵۰۰ کالونه پخوا به په اوسني عراق، ۲۰۰۰ کاله پخوا په مصر کښې او ۳۰۰۰ کاله پخوا په چین کښې کرل کېدو. له تاریخ نه وړاندې غنم په اروپا او افریقاکښې خپاره شوي دي."[11]

د غنمو په باره کښې د قرآن کریم د یو آیت مفهوم دے.

"او خوراک کوئ تاسو دواړه (ادم علیه سلام او بی بی حوا) په جنت کښې چې کوم ځائے ستاسو خوښ ئي. خورئ او څښئ او نشته په تاسو پابندي. دغې ونې ته مۀ نیزدې کېږئ که چرې تاسو اوخوړه د دغې ونې مېوه نو تاسو به شئ په نا انصافو کښې یعنې انصاف به ونکړئ."[12]

په یو شعر کښې ذکر شوې د ادم علیه سلام په باره کښې راځي :

"جنت نه پسې ووتې دنیا ته پسې راغلې
دانه وه د غنم که رنګې وه بابا"[13]

کله به چې انسانانو په ځنګلو او غارونو کښې ژوند کولو ـ خو په هغه وخت کښې دوي د کروندې نه خبر نهٔوو ـ دوي به زیات تر ښکار کولو ـ خو چې کله انسانو ته پته ولګېده چې د غلې دپاره فصل هم کرلې کېږي .نو په هغه وخت کښې انسان د خپل پسندیده خوراک د بوټي انتخاب وکړو ـ

"ابتدائی دور کے انسان نے اپنی خوراک کے اس مسئلے کو حل کرنے کے لیے اپنے پسندیده پودوں کو خود اگانے کا فیصلہ کیا۔ اس نے سب سے پہلے گندم کی ابتدائی جنگلی قسم کو کاشت کرنے کی طرف توجہ دی جو اسے بہت پسند تھی۔"[14]

د دې خبرو ، روایتو او اقوالو نه مونږ ته معلومیږي ـ چې د غنمو فصل د انسانانو سره د ډېر وخت نه راروان دے ـ

دغنمو د تخم انتخاب:

د کروندې نه مخکښې د تخم انتخاب کول لازمې ګڼلے کیږي ـ د داسې قسمه تخم کرونده پکارده چې د هغې پېدوار زیات او بیمارۍ ورته کمې لګې ـ او د علاقې د آب هوا سره ترون لرې ـ هم د دغې په حقله دزراعتو ماهرین وائي ـ

"گندم کی ایسی نئ اقسام کا انتخاب کریں جو بیماری کے خلاف قوت مدافت رکھتی ہو۔ اور اچھی پیدوار دیتی ہو اور علاقے کی آب ہوا سے موافقت رکھتی ہو۔"[15]

دتخم په حقله وئیلې شي ـ

"که تخم ښه زمکه پسته وي

چې خداے یې نه زرغونوي نو خطا شینه"[16]

کله چې فصل ښهٔ اوشي نو د وطن د وادنې دپاره لوئے حېثیت لري ـ ځکه چې دا یوه اهمه غله ده ـ ځکه خو ماهرینو د هایې برېډ تخم انتخاب کړے چې په تېپه کښې وائي:

"د هایې برېډ تخم د لاسه

اوس نه جوار او نه غنم هغسې دینه"[17]

غنمو له د پټي انتخاب:

ښنګه چې د تخم انتخاب لازمی ګڼلې شي.هم دغه شان د زمکې انتخاب هم ضروري پکار دے.ښنګه چې کور په مېړه او مېرمنې آبادیږي. هم دغه شان زمکه په اوبو آبادیږي .نو په ټپه کښې هم دغه ذکر ستائیلے شوے.

"باران د زمکې آبادي ده

شېرینه یاره زۀ په تا آباده یمه "[18]

د فصل دپاره زمکه هم په دوه قسمه ده. چې یو ته نهري او بل ته باراني (للمه)زمکه وائي.نهري زمکه د نهر نه اوبه کیږي. او باراني زمکه یعنې للمې صرف اوصرف په باران اوبه کیږي.د زراعتو د ماهرینو د وینا مطابق وائیلي شي چې.

"شدید شور زدہ زمینوں میں گندم کی فصل کاشت نہیں کی جاتی۔گندم کی پیدوار کیلیے آبپاشی اور بارانی علاقے موزوں ہیں"[19]

نوري داسې زمکې هم شته چې هغه هېڅ قسمه فصل نه کوي هغې ته خوره یعنې(سیم وتور) زمکه وئیلي شي . دغه زمکه یا خو شړې ئي او یا پرې آبادي جوړه وي .

" شاړې بنجرې شوې آبادي

اوس به لیلیٰ غواګانې کوم ځاے څروینه" [20]

کله چې زمکه ښۀ ئي خربه ئي نو هغه فصل هم ښۀ کوي.زمکه په ډېراني سَره او سپینه خاوره خرببږي . نو د هغې سره زمکه پېداور هم ښۀ ورکوي.په یو ټپه کښې د مینې د زیاتېدو تشبیه د ښۀ پټي سره ورکړې شوې ده.

"مینه دې دم په دم زیاتیږي

لکه د ښۀ پټي چې زیات شي حاصلونه"[21]

د غنمو کرونده:

په لرغوني وختونو کښې به زنانه په پټو کښې د کر کروندې په وخت کښې په دې خاطر ګډولې شو چې فصل ښۀ اوشي خو بل طرف ته په د پښتو سره پټې واوړېدو راواوړېدو او فصل به ښۀ شو دغه شان د ښکار په نسبت د خلقو توجو زراعت طرف ته شوه.[22]د وخت تېرېدو سره دوي ته خبره واضحه شوه چې زمکه نرمه شي نو هغې کښې فصل ښه کیږي. ورمبۍ ئي د لرګي نه ایوه جوړه کړه.چې په هغې باندې به ئي زمکه یا پټي نرمولو.

"د ونې دوۀ خوځې لرګې يې استعمال کړے وو ۔ چې هغه د ايوې په شان وو ۔ خو په هغه وخت
کښې ځناور جوتې نه وو چې په خپله بۀ ئې په زمکو کښې ايوې کولې۔"[23]

او بيا هغه وخت هم راغے چې:

"یہ وہ زمانہ تھا۔ جب انسان جنگلی ماحول سے نکل کر تہذیب اور تمدن کے دروازے پر
پہنچ چکا تھا۔ اب اس کے ہل کا پھالا لکڑی یا پھتر کا نہیں لوہے کا بنا ہوتا تھا۔"[24]

او دغه شان بيا هغه وخت شروع شو چې زمکې به ئې په قولبو يعنې په غويانو دفصل دپاره تيارولے او پټيې به ئې پرې اړول۔ او يا به ئې په کودالو زمکې جوړولې۔ د هغې وجه هم دا وه۔ چې مشين او جديد ټيکنالوجي نۀ وه۔

د وخت تېرېدو سره د ځناورو نه کرونده ټېکټر او مشين ته لاړه او څۀ قدرې تيزي او اسانې پکښې پيدا شوه ورسره د پيداوار کچه هم لوړه شوه۔ د نهري زمکو په مقابله کښې د للمو زمکې ډېرې دي۔ چې د اوبو د لاسه محرومه دي او د باران په اسره ورته غنم يا نور فصلونه کرلې کيږي۔

"په پاکستان کښې ۷۰ فيصده زمکې باراني دي۔ چې په دغه زمکو هم غنم کرلے کيږي۔"[25]

کله چې باران نۀ کيږي او فصلونه کرلے شوي وي نو د باران سوالونه کوي چې په للمو کښې فصلونه زرغون شي۔

"اسمانه ښۀ باران پرې اوکړې

يار مې د للمي کر کوي چې زرغون شينه"[26]

خو دا باران هم په يو اندازه پکار وي چې پټے وتره شي د دې په مقابله کښې چې د چا پټے يا کټے نۀ وي او د کروندې نه ناخبره وي هغه څه داسې ټپې بيا وائي۔

"بارانه لس ورځې وريږه

نۀ مې غنم شته نۀ د يار ديدن له ځمه "[27]

د للمو فصلونه د باران په اوبۀ ګزران کوي ۔نو په يو ټپه کښې وائي۔ چې د هجران غمونو زما بدن يا وجود داسې اوچ کړو لکه څنګه چې د للمي غنم په باران ګذران کوي۔ چې باران وي غنم ښۀ وي او چې باران نۀ وي۔ نو غنم هم وچيږي۔

"بدن مې غم د هجران اوچ کړو

لکه د للمي په باران ګذران کومه"[28]

د غنمود فصل اوبه خور:

اوبه د ژوند یوه اهمه برخه ده۔ اوبه د ودانۍ ذریعه ده ۔هر کله چې یو بوټے یا تخم وغیره وکرلے شي نوښکاره خبره ده چې هغه به اوبه غواړي او په اوبه زرغونیږي:

"خلقه دیار د غمه پایم

لکه چې بوټے پۀ اوبو لوے شوے یمه"[29]

په جدید دور کښې هم اوبه خور په دوه قسمه کیږي۔

"آبپاشی دو طرح سے ہوتی تھی۔بارش سے نہروں اور کنووں سے۔جن زمینوں کو نہروں اور کنووں سے پانی دیا جاتا تھا۔ چاہی کہلاتی تھیں۔اور جن زمینوں کی بارش سے آبپاش ہوتی تھی۔بارانی کہلاتی تھیں۔اور اب بھی کہلاتی ہیں۔"[30]

بغیر د اوبو نه یو بوټے هم نۀ زرغونیږي او بیا چې د غنمو خبره ده نو غنم د دریو نه واخله تر پینځه ځله پورې اوبه کول لازمي ګڼلے شي۔

"پہلا پانی18 سے 25 دن کے اندر دینا ضروری ہے۔دوسرا پانی پہلے پانی کے 6 ہفتے بعد دینا مفید ہے۔تیسرا پانی اس وقت دیا جائے جب گندم گوبھ کی حالت میں ہے چوتھا پانی زیرگی کی حالت میں دینا چاہئے۔پانچواں پانی جب دانے دودھیا حالت میں ہوں"[31]

دا خبره هر چاته معلومه ده چې په للمو کښې اوبه نه وي او ټول فصلونه د باران په اوبو زرغونیږي۔ چې وئیلي کیږي۔

"بارانی علاقو میں گندم کی ابپاشی کا بڑا ذریعہ بارش ہے۔"[32]

نن سبا ډیرې للمې هم ابادې شوې دي۔ چې حکومت ورته ډېمونه او نهرونه ایستلي دي۔

"زړه مې د ستا خبرې غواړي

لکه د للمې غنم غواړي بارانونه"[33]

کله چې فصل ښۀ وشي نو زمیدار ډېر خوشحاله وي۔ ځکه چې زمیدار خپل ارمانونه د دغې فصل سره تړلي وي ۔

"کۀ سرېنې فصلونه اوشو

ماته جانان د سور پېزوان وئیلي دینه"[34]

په فصلونو باندې بیمارۍ او مرضونه هم راځي۔ چې بارانونه کله ډېر شي نو اکثر بیا سورخے مرض کوي۔ یو زمیدار ئې فریاد کوي او وائي۔

"ولې به نۀ ژاړم تالا شوم

په شنو غنمو مې سورخې اولېګدونه" [35]

د غنمو لو ،رېبل :

لو يا رېبل هم په فصل کښې يوه اهمه مرحله ده. د زراعتو ماهرين وائي چې د غنمو لو يا رېبلو کښې د يو څو خبرو ډېرخيال ساتل پکار دي .

"کله چې د غنمو په دانه کښې نمي ۲۰ نه ۳۰ فی صده پورې وي، چې غنم ډېر پاخه نۀ شي ځکه چې بيا په پټي کښې دوړېږي. دغنمو لو سحر يا ماښام وخت کښې پکار دے. د غنمو ګېډۍ چې کله تړئ، کوشش کوئ چې د غنمو دروزه پاتې نۀ شي.غنم چې کله مېدان ته راوړئ په صفائي سره ورې راغونډوئ ." [36]

په تېرو وختونو کښې به چې غنم پاخۀ شو ، نو اشر به ئې ورله راغونډولو چې د هرې علاقې يو رسم، رواج او د مينې، محبت، ورورولئ او د امن يو پېغام به پکښې وو . د اشر په حقله وئيلې کېږي.

"د خيبر پختونخوا په ځينو علاقو کښې يعنې قبائيلو او کليوالو سيمو کښې به خلقو د يو بل سره په کار روزګار کښې مدد کولو دغه کار روزګار له به چې کوم خلق راغونډ شول نو دغې ته به ئې اشر وئيلو. مثلاً چې لو به وۀ يا به ئې د کوټو په چتونو خاوره اچوله وغېره وغېره".[37]

"يار دهر چا شو زما نۀ شو

زړۀ له پۀ زور دغم اشر راخبرومه" [38]

لو که په خپله وي او که په لوګرو وي. ځکه چې غنم د خولې نوړۍ ده. او هر څوک چې ژوند کوي او ځان ئې په لړزان کړے وي، نو دا هر څه د خپل ځان ،بچو او د کور خلقو دپاره د يو وخت خوراک پيدا کوي.

"ماله رخصت راکړه چې لاړ شم

پاس په وطن مې غنم زيړ لو ئې کومه" [39]

خو د وخت تېردو سره دومره بدلون راغلے، سائنس او ټيکنالوجي دومره ترقي وکړه چې د لو دپاره ئې مشينان راوويستل. د لو مشين باره کښې راځي.

"د لو د مشين ډېرې فائدې دي که يو طرف وخت بچت کوي نو بل طرف انرجي او د انسان صحت هم نۀ خرابيږي. په لږ وخت کښې ډېر کار کوي. يو تن مشين چلوي اوپه لږ وخت ډېر پټي پرې لو کوي. د پاک لو کولو سره سره ګېډۍ هم تړي ." [40]

د غنمو لو په مشين دومره په اسانه کيږي چي لوګري ته پکښي ضرورت هم نۀ راځي- او دغه لوګري چي يو پټے په څو ورځو کښي لو کوي- هغه په ګهنټو کښي لو کيږي او لوګري ورته په پټو سپلونه کوي-

"غنم مي ټول درله خوندي کړل

لوګري هسي د پټو کوي سپلونه" [41]

کله چي لوګري نه وي نو لو خلق په خپله کوي- نو يو مئين خپلي محبوبې ته په ټپه کښي وائي -

"چي لو کوي ګوتي به پرې کړې

پلار ته دي وايه چي لوګري واچوينه-" [42]

د پښتنو په سيمه لوونه په سخته ګرمۍ کښي کيږي- لو کول د هر چا کار هم نۀ دے-او چي بيا څوک د چا زړۀ ته نيزدې وي او هغه لو کوي نو دا خو به وائي -

"زما نه ستړه غنم واخله

په خانګه مۀ کړه تر غرمې پورې لوونه" [43]

داسي وخت هم پکښي راشي چي لوونه په روژه کښي کيږي- که د ورځې روژه وي نود شپې ټوله شپه لو کوي-او چي لو د شپې شي نو د رڼا ضرورت خو به وي -

"د هغه شپې سبا رامۀ شه

چي جانان لو کړي ما رڼا نيولې وينه" [44]

د غنمو غوبل يا تهريشر(ترېشل):

غوبل ته په اردو کښي" ګهائی" وئيلے شي- غوبل به هم په اشرو کېدلو او دا به ډېره د خوشحالۍ خبره وه-چي دا تياره غله به ئي سمبال کړه-نن سبا دغوبل صرف نوم پاتي دے- خو غوبل څوک پېژني نۀ چي غوبل څه شے دے-خو په حقيقت کښي دغوبل باره کښي وئيلي کيږي-

"تېر وخت کښي به غنم يو پاک مېدان ته راغونډ کړے شو-او د هغې د پاسه به ئي غوايان ګرځول چي هغه به مېده شو نو بوس به ترې جدا او دانه به ئي ترې جدا کړې شوه-دغه سلسله به د سحر نه تر مازيګره مانبامه پورې وه-"[45]

"په زړۀ مې يو لالے ځائيږي

څه درمن نۀ دے چي غوبل پرې اوتړمه" [46]

"سربانډې زر يوسه ريباره

د بېلتانۀ غوبل مې کور را ورانوي‌نه"[47]

په نن سبا دور کښې هغه غوبلې ختمې شوې چې په مېدان به ورته تيپې او ډمامې وهلې کېدلې او غويانو به غوبل کولو۔ چې په هغه وخت کښې به يو غوائي ته مونډه وئيلے کېدو او کوم غوائي به چې په بل راتاوېدو هغه ته به ئې چرمباز وې۔ چې غويان به سترې شو يا به بيمار شول نو کار به هم نۀ کېدلو۔ ځکه خو په يو ټپه کښې وائي چې:

"د لېونی د پلاړ غوبل دے

زما اجل دے چرم باز به پرې تړينه"[48]

نن وخت دومره بدل دے ۔ چې په لږ وخت بلها غنم تهريشر کېږي چې غنم ځانله پاک راوباسي۔ او بوس ځانله پاک او مېده راولي۔

بوس او دانې:
د غنمو دسمبالولو په دوران کښې د يو څو خبرو خيال ساتل ضروري دي۔

"د ټولو نه اول به ګودام پاک کړئ او زهريله سپرے به پکښې وکړئ ۔ دانه، غنم به پاک کړئ او تقريباً ۱۰،۹نمی کښې ذخيره کړئ ځکه چې کوم حشرات دي او غنمو ته نقصان ورکوي هغه په کمه نمی کښې ژوندي نه پاتې کېږي۔ هر ۲۰، ۱۵ ورځې پس غنم ګورئ۔ که سپږی يا نور څه حشرات ورته راغلي وي نو زهريله ګولې ورته کېږدئ۔"[49]

بو س د څناورو يو اهم خوراک دے۔ که چرې د چا کره بوس نۀ وي او څاروي يا څناورساتي نو د هغوي ژوند هم په لړزان وي۔ لنډه دا چې بوسو ته سپک کتل نه دي پکار۔ او د بوسو هم قدر پکار دے۔ ځکه خو په يو ټپه کښې وائي:

"جانانه کبر دې زوال شه

چې بيا د بوسو پۀ سر نۀ ږدې قدمونه"[50]

په ټپه کښې د غنمونه جوړ شوي غذائي اجناسو ذکر:
د غنمو د کرلو ريبلو او سمبالولو د مرحلې نه پس د دې نه هغه اجناس جوړيږي چې هغه د انسانانو خوراک وي چې د دغې هم په ټپه کښې په مختلفو حوالو ذکر شوے دے۔ دغنمو نه جوړ شوي غذائي اجناس څه داسې دي۔

اوړۀ:
چونکې نن سبا د غنمو د کروندې شرح ډېره ده ۔نو ډېر غنم په بازار کښې خرڅيږي او داسې نورو ملکونو ته پرې تجارت هم کيږي۔ د دې نه علاوۀ غنم په زياتره حصه ميلونو ته هم چليږي۔ چې په ميل کښې

اوړۀ کيږي .د غنمو د دغه اوړو نه بيا ځانله قسماقسم غذائي اجناس جوړيږي۔چې د هغې په حقله ظهير عباس وائي۔

"کله چې په ميل کښې غنم اوړۀ کړي نو چوکر، اوړۀ، نشاسته ترې ځانله ځانله کړي۔ بيا د دغې اوړو نه نمک پاره، ډبل روټۍ، بيکري، سموسه، او په يو خاص قسم متهايۍ کښې هم استعماليږي دغه شان په کورونو ، او هوټلو کښې ترې ډوډۍ هم پخيږي، لنډه دا د غنمو ډوډۍ زمونږ روزمره خوراک دے۔"[51]

د غنمو دانه به اول په مېچن اوړۀ کېدله چې په هر يو کور کښې به مېچنه نۀ وه۔ او بيا د وخت تېرېدو سره د اوبو ژرندې راووتلې چې نن سبا هغه هم په نښت حساب دي ۔وخت تېرېدو سره دومره ترقي اوشوه۔ چې د جرنېټر مشين او نن صبا د ټېکټر په مشين غنم اوړۀ کېږي۔ د غنمو ډوډۍ چې د هر ملک خلق ئې خوښوي ۔اولسي ادب او بيا په خاصه توګه ټپې د ژرندې ذکر په خپله لمن کښې رانغښتے دے۔ او اولس په ټپو کښې ستائيلې دي۔ لکه په دې ټپه کښې وائي:

"بره اسمان دے ښکته زمکه

لکه د ژرندے دواړو مينځ کښې مېده کړمه"[52]

ډوډۍ:

د غنمو ډوډۍ چې د نړۍ په هر يو ګوټ کښې خلق خوښوي او ډېر په شوق ئې خوري۔ زمونږ روزمره خوراک هم د غنمو ډوډۍ ده۔ډوډۍ په تناره پخيږي چې نن سبا د ډوډو پخولو مشينونه هم جوړ شوي دي۔

"خوابنې مې ښۀ ده بده نۀ ده

د تنارۀ په سر ډوډۍ راته شميرينه"[53]

مسافري هم ګران کار دے۔ خپل کور کلے، مور پلار، ښځه بچې پرېښودل په ژوندانه مرګ دے۔ چې خلق ئې د رزق ګټلو دپاره کوي نو په يو ټپه کښې وائي۔

"په هغه يار مې سلام وايئ

چې د ماښام ډوډۍ د اوښکو سره خورينه"[54]

ډېر داسې خلق چې په توهماتو باندې يقين لري او زيارتونو باباګانو له روان وي۔ او خپل اميدونه ئې ورپورې ترلي وي۔

"خلک زيارت له پتاسې وړي

زه د اشنا دپاره غونډه ډوډۍ وړمه"[55]

چوري او مېنچې:

دغه شان د غنمو د اوړو نه چوري او مېنچې هم جوړيږي۔ چې اکثر زنانه ئې په خپله په خپلو کورونو کښې کوي۔ چې نن سبا داخوراکونه هم اوس په مشينونو جوړيږي او په بازارونو کښې خرڅيږي۔ په ټپو کښې د چورۍ په حقله وئيلې شوي۔

"اشنا طوطي شه راله راشه

ديدن چوري به درله خلۀ کښې درکومه"[56]

کُلچه:

"کُلچه" هم د غنمو د اوړو نه جوړيږي۔ او په دوکانونو، او بازار کښې بيا خرڅيږي کيږي۔ په يوه ټپه کښې د جينۍ تشبيه د کولچې سره ورکړې ده وائي چې:

"جينۍ چې غټه شي کلچه شي

هلک چې غټ شي کوپنۍ دې پرسوينه"[57]

نه صرف ټپه پلکې ټول اولسي ادب د غنمو د فصل او غذائي اجناسو د ذکر نه ډک دے چې د نمونې په توګه ترې دلته په ټپه ښېړنه وشوه۔

نتيجه: د فصل نه بغير د انسان ژوند ډېر ګران دے۔ د ژوند د تېرېدو کړۀ وړۀ پۀ فصلونو منحصر دي ۔ نو د غنمو فصل او د هغې نه جوړ غذائي اجناس چې ذکر يې په ټپو کښې ستائيلې شوي دے۔ هغه هم اولس ته په ډاګه شو۔ د تېرو وختونو هغه زميدارۍ چې نن سبا د جديد دور په مشينونو کېږي، زميدار او لوستونکي به د دغې جديدو اوزارو او طريقو سره هم اشنا شي اود روايتي طريقو په ذکر سره دغه طريقې د راتلونکو خلقو دپاره محفوظې شوي۔ دغه شان ټپې د غنو د فصل او د غذائي اجناسو ذکر په خپله لمن کښې د مختلفو زايو نه رانغښتے دے چې هم پکښې تاريخ خوندي دے او هم زمونږ کلتور چې په راتلونکي وختونو کښې ترې په دې حواله خلق ډېر څه اخذ کولے شي۔

## حوالہ جات: (References)

[1] *Encyclopedia Americana, Vol. 17-1958, P. 472*

[2] دانش ، نور محمد بېتنېړ ډاکټر ، "د پښتو ټپې عمراني مطالعه"، کرسټل پرنټرز سائيبان هيلز ۱۷ ميرباره کهو، ۲۰۱۷"، مخ ۱۱۲

[3] اثرعبدالحيلم افغاني، "پښتو ادب"، پشاور اداره اشاعت سرحد ، ۱۳۸۰ھ ، مخ ۷۰

[4] دانش، نور محمد بېتنېړ ډاکټر ، "د پښتو ټپې عمراني مطالعه"، مخ ۱۲۰

[5] سلمیٰ شاهين، ډاکټر ، "روهي سندرې (ټپې)"، ډائريکټر پښتو اکيډمي ، ۱۹۸۴ مخ ۷

[6] خاکي شاه وزير خان، "په ټپه کښې مادي فوکلور"، نديم يونس پرنټرز لاهور، ۲۰۱۷، مخ ۱۲

[7] یوسفزئے،فرهاد علی ،"فولکلوري ادب"،اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور،۲۰۱۷ء ، مخونه۸۲،۸۳

[8] دانش، نور محمد ببټنړے ډاکټر ،"د پښتو ټپې عمرانی مطالعه"، مخ ۲۰۰

[9] سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"، مخ ۲۷

[10] یوسفزئی،فرهاد علی،"فولکلور ادب"، مخ ۹۷

[11] .https://ps.m.wikipedia.org/wiki/%D8%BA%D9%86%D9%85

[12] ۔القران ،سورة البقره،پاره اول،ایت نمبر ۳۸

[13] . https://m.facebook.com/story-php?story-fbid=4048602051874473&id= 100001741550069 تاریخ۱۱۔۴۔۲۰۲۱

[14] ۔ زبیر وحید،"زراعت اور جدید کاشتکاری"،کوثر پرنٹنگ کار پوریشن،آوٹ فال روڈ، لاہور،سال ۲۰۱۰،مخ۱۱

[15] ۔شاہ،سیدعقیل،"گندم کی پیداواری ٹیکنالوجی"،بیوروآف ایکلچر انفارمیشن محکمہ زراعت شعبہ توسیع خیبر پختونخوا پشاور،سال20،2019،مخ 4

[16] ۔دستار یوسفزئے۔ناچاپ کتاب، ډهیري جولګرام ملاکنډ،۱۱۔۴۔۲۰۲۱

[17] ۔دستار یوسفزئے۔ناچاپ کتاب ډهیري جولګرام ملاکنډ،۱۱۔۴۔۲۰۲۱

[18] ۔ سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"،قامي ادبي مکتبه(قام) پښتو ادبي مرکز(پام) خیبر پښتونخوا،کال ۲۰۲۰،مخ ۲۷۷

[19] ۔رشک،عبدالقدیر،"پاکستان کی اہم فصلیں"، مخ۱۳

[20] ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ ۲۰۹

[21] ۔همدغه اثر، مخ۲۴

[22] ۔زبیر وحید،"زراعت اور جدید کاشتکاری"، مخ ۱۰

[23] ۔همدغه اثر، مخ ۱۲

[24] ۔زبیر وحید،"زراعت اور جدید کاشتکاری"، مخ۱۳

[25] ۔رشک،عبدالقدیر،"پاکستان کی اہم فصلیں، مخ ۱۴

[26] ۔سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"،ډائرېکټر پښتو اکیډمي، ۱۹۸۴ مخ۲۸

[27] ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ۲۷۷

[28] ۔سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"، مخ۸۷

[29] ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ۳۰۲

[30] ۔زبیر وحید،"زراعت اور جدید کاشتکاری"، کال ۲۰۱۰،مخ۲۸

[31] ۔شاہ،سیدعقیل،"گندم کی پیداواری ٹیکنالوجی" ،،کال ۲۰،۲۰۱۹، مخ ۱۰

[32] ۔رشک،عبدالقدیر،"پاکستان کی اہم فصلیں"، ،مخ۲۲

[33] ۔سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"، مخ۳۹۲

[34] ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ۱۵۹

[35] ۔سلمیٰ شاهین، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"، مخ۲۳۳

36 ۔شاہ،سید عقیل،"گندم کی پیداواری ٹیکنالوجی" ، کال۲۰،۲۰۱۹ ، مخ۱۴،۱۳

37 ۔ یوسفزئ روخان،"پختون کلچر کے خدوخال"۔امن پرنٹنگ پریس پشاور،مارچ۲۰۱۹،ص ۵۰

38 ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ۳۷۵

39 ۔سلمیٰ شاهين، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"، مخ۵۸

40 ۔https://www.facebook.com/voadeewa/videos/1031542690580326/ تاریخ۔۵۔۷۔۲۰۲۱

41 ۔ https://m.facebook.com/story.php?story_fbid=3953878338066603&id=100003334260949 د سراج الدين په پوسټ د عامر شاه کمنټس

42 ۔داؤد،داورخان پروفیسر"پښتوټپه" ۱۹۸۴،مخ۷۵

43 ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه ، مخ ۲۱۸

44 ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ۱۲۷

45 ۔یوسفزئ روخان،"پختون کلچر کے خدوخال ، مخ۵۲

46 ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ۱۹۴

47 ۔حنیف الله په واټس اف رالبرلي ، ۸،۵،۲۰۲۱

48 ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه ۔مخ ۲۱۵

49 ۔ شاہ،سید عقیل،"گندم کی پیداواری ٹیکنالوجی" ، کال۲۰،۲۰۱۹ ، مخ۱۵،۱۴

50 ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه ، مخ۱۰۳

51 ۔واټس ایپ ډسکشن،ظهیر عباس(فوډ انسپکټر)،۱۲جون۲۰۲۱

52 ۔سلمیٰ شاهين، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"، مخ۸۷

53 ۔دانش، نور محمد بېټنےډاکټر ،"د پښتو ټپې عمراني مطالعه"، مخ۴۲۷

54 ۔سلمیٰ شاهين، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"، مخ۱۵۴

55 ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ۴۴

56 ۔سراج الدین سراج،"د زړۀ لۀ درده مې ټپه کړه"، مخ۳۴

57 ۔سلمیٰ شاهين، ډاکټر ،"روهي سندرې(ټپې)"، مخ ۳۰۰